## د ټاکنو خپلواک کمیسیون

# د پلټنې او بیا شمېرنې طرزالعمل

**سریزه**

د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې د ۱۳۹۳ کال د حمل په ۱۶مه نېټه ترسره کېږي. د رأیو ورکولو او رأیو شمېرلو څخه وروسته ټول ټاکنیز توکي ولایتي دفترونو او د پایلو فورمې په کابل کې د پایلو د جمع بندۍ ملي مرکز ته لېږدول کېږي.

په هغه صورت کې چې د پایلو د جمع بندۍ بهیر په ترڅ کې د پایلو د فورمو په اړه د هر ډول وضاحت اړتیا ولیدل شي، نو د رأیو د صندوقونو د پلټنې او بیا شمېرنې بهیر به ترسره شي.

**پلټنه**

پلټنه د اسنادو، مدارکو، رپوټونو، فورمو او د رأی اچونې د صندوقونو د څېړنې څخه عبارت دی چې د کار د سموالي او صحت په اړه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه ترسره کېږي. د پلټنې په پایله کې څرګندېږي چې آیا اړوند طرزالعملونه په سمه توګه تطبیق شوي او که نه؟ د کومې خطاء، تېروتنې او یا هم د درغلۍ په صورت کې به د قانون، طرزالعملونو او د کمیسیون د پرېکړو سره سم چلند وشي.

**بیا شمېرنه**

بیا شمېرنه د هغه عمل څخه عبارت دی چې د رأی ورکولو د یوه محل، مرکز او یو ولایت یا ټول هېواد په کچه د رأی اچونې په یوه ځانګړي صندوق کې ټولې موجودې رأیپاڼې یو ځل بیا شمېرل کېږي. د دې بهیر په ترسره کولو سره ډاډ ترلاسه کېږي چې اصلي پایلې دقیقې او سمې وی او په هغه صورت کې چې هر ډول درغلي او خطاء وموندل شي، نو د بیا شمېرلو پایلې د اصلي پایلو ځای نیسي.

**د پلټنې او بیا شمېرنې ټیم**

د هر ولایت لپاره د پلټنې او بیا شمېرنې ټیم د ټاکنو خپلواک کمیسیون له لوري ټاکل کېږي. دا ټیم د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کارکوونکو څخه جوړېږي چې د اړوند ولایت د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د استازو په حضور کې د پلټنې او بیا شمېرنې بهیر ترسره کوي. د ټیم د غړو شمېر د ولایتونو په وسعت پورې اړه لري. هر ټیم په لاندې ډول درې کارکوونکي لري:

1. د پلټنې او بیا شمېرنې مسؤول
2. لومړی همکار
3. دویم همکار

د پلټنې او بیا شمېرنې مسؤول مسؤلیت لري چې د ولایتي دفتر د مسؤول تر مشرۍ لاندې نوموړې وڅاري او تطبیق یې کړي. دوه نور همکاران به ورسره د بهیر په ترڅ کې مرسته کوي.

**هغه اشخاص چې د پلټنې او بیا شمېرنې په ترڅ کې د حضور اجازه لري:**

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون مؤظف کارکوونکي اجازه لري چې د پلټنې ا وبیا شمېرنې محل ته داخل شي. همدارنګه هغه استازي، کتونکي او سیاسي ګوندونه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون څخه یې باورلیکونه ترلاسه کړي، کولی شي د پلټنې او بیا شمېرنې په محل کې حضور ولري او د بهیر له جریان څخه کتنه او څارنه وکړي.

**د پلټنې پړاو**

د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړو پرېکړې ته په پام، د پایلو د جمع بندۍ د ملي مرکز مدیریت ټیم به مشخصوي چې د پلټنې بهیر څه وخت او په کوم ځای کې ترسره شي.
کله چې د پایلو د جمع بندۍ د ملي مرکز مدیریت ټیم له لوري د پلټنې بهیر د ترسره کولو محل مشخص شي، دوی به:

1. په دې اړه اړوند ولایتي دفتر مسؤول ته خبر ورکوي،

2. برېښنا لیک له لارې ولایتي دفتر مسؤول ته د لاندې اسنادو کاپیانې (نقلونه) لیږي :

الف: د پلټنې فورمې،

ب : د پایلو فورمه،

کله چې ولایتي دفتر مسؤول د پلټنې بهیر په هکله خبر ترلاسه کړي، مکلف دی چې پلټنې بهیر له پیل څخه زیات نه زیات ۲۴ ساعته مخکښې، لاندې موارد عملي کړي:

1. ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون استازي، نوماندانو استازي، کورني او نړیوال کتونکي، سیاسي ګوندونه او ائتلافونه د قریب الوقوع پلټنې او بیا شمېرنې د بهیر په هکله خبر کړي،

2. پلټنې بهیر ترسره کولو لپاره مناسب ځای چمتو کړي،

3. پلټنې بهیر ترسره کولو لپاره صندوقونه او نور اړین توکي مشخص او چمتو کوي،

د پلټنې بهیر مسؤول لاندې پړاوونه عملي کوي:

1. له یوه همکار څخه غوښتنه کوي چې مشخص شوی صندوق له اړوند ځای څخه را انتقال کړي،

2. صندوق د مېز د پاسه ږدي،

3. په لنډ ډول د پلټنې بهیر موجودو استازو او کتونکو ته تشریح کوي،

4. د صندوق پلټنه د چک لېسټ سره سمه پیلوي،

5. د پلټنې چک لېسټ بشپړوي او ورسته یې لاسلیک کوي،

6. د پلټنې چک لېسټ د ورستي تصدیق په موخه ولایتي دفتر مسؤول ته ورکوي،

7. ولایتي دفتر مسؤول ډاډ ترلاسه کوي چې د پلټنې بهیر طرزالعمل سره سم ترسره شوی او په چک لېسټ کې ثبت شوي معلومات دقیق دي،

8. د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون او نوماندانو له استازو غوښتنه کوي چې چک لېسټ لاسلیک کړي،

9. د صندوق اړوند توکي بېرته پکښې اچوي،

10. د صندوق د مهرولاک کولو څخه مخکښې د چک لېسټ یوه کاپي په صندوق کې اچوي،

11. صندوق مهرولاک کوي،

12. زیړ رنګ سکاشټیپ څخه په استفادې (د صندوق څخه دې چاپېره شي) پلټل شوی صندوق په نښه کوي،

13. د یوه همکار څخه غوښتنه کوي چې صندوق مشخص شوي ځای ته ولېږدوي،

ولایتي دفتر مسؤول دې د پلټنې فورمه سکېن کړي او ژر تر ژره دې د پایلو جمع بندۍ ملي مرکز د مدیریت ټیم ته ولیږي.

**یادونه:** اصلي چک لېست د خوندیتوب په موخه د ولایتي دفتر مسؤول سره پاتې کیږي.

**د بیا شمېرنې پړاو**

بیا شمېرنه لاندې دلایلو ته په پام ترسره کیږي:

1. پایلو د فورمې بشپړولو پر مهال نه دقت چې د حساب له نظره د ناسمو ارقامو څرګندونه کوي،

2. کله چې د ټولو رأیپاڼو کلي جمع د یوه محل او مرکز لپاره د اختصاص شوو رأیپاڼو له مجموعي څخه زیات استفاده شوي وي،

3. په هغه صورت کې چې په یوه مرکز کې د ښځینه محلاتو د رأیو شمېر په هماغه مرکز کې د نارینه و محلاتو په پرتله زیات توپیر ولري،

4. په هغه صورت کې چې د پایلو په فورمه کې ثبت شوی رأیې د دوه و یا زیاتو نوماندانو تر منځ په مساوي یا نامناسب ډول چې د واقعیت په نه موجودیت دلالت وکړي، موجودې وي،

5. په هغه صورت کې چې کمېسیون د نورو لاملونو پربنسټ، د بیا شمېرنې لارښوونه وکړي،

6. په هغه صورت کې چې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون شکایت یا معلومات ترلاسه کړي او هغوی د موضوع د وضاحت په موخه د بیا شمېرنې غوښتنه وکړي،

7. په هغه صورت کې چې یو له نوماندانو څخه د دې کار غوښتنه وکړي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون یې تأیید کړي،

کله چې ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون بیا شمېرنه غواړي، نو باید ټاکنو خپلواک کمیسیون ته کتباً خبر ورکړي،

د پلټنې او بیا شمېرنې ټیم د بیا شمېرنې په موخه ټول پورته ذکر شوي پړاوونه تعقیبوي او یواځینی توپیر په دې کې دی چې په دې پړاو کې ټولې رأیپاڼې په مکمله توګه بیا شمېرل کیږي. د رأیپاڼو بیا شمېرنه د رأی ورکولو او رأی شمېرلو د طرزالعمل سره سم ترسره کیږي.

د ټیم مسؤول د رأیو د شمېرلو څخه وروسته د هر نوماند حاصله رأیې په دقیق ډول د پایلو په فورمه کې ثبتوي. ولایتي مسؤول وروسته له هغې چې د پایلو د فورمې او د پلټنې چک لېست د دقیق بشپړوالي په هکله ډاډ ترلاسه کړي، دوی به سکېن کوي او ژر تر ژره یې د پایلو د جمع بندۍ ملي مرکز مدیریت ټیم ته لیږي.

**د پلټنې او بیا شمېرنې ټیم لپاره د پلټنې چک لېسټ څخه د استفادې پر مهال لارښوونه**

د پلټنې او بیا شمېرنې په ترڅ کې د ټیم غړي لاندې ټکي په پام کې نیسي:

1. **د رأیو د صندوق بصري کتنه:** ټیم صندوق ګوري او ترلاسه کېدونکي معلومات د چک لېسټ په اړونده برخه کې په دقیق ډول ثبتوي،

2. **د صندوق پرانېستل:** په صندوق کې د هر ډول فزیکي علایمو او لاسوهنې (دست خوردګي) په اړه د معلوماتو د ترلاسه کېدو په صورت کې باید ترلاسه شوی معلومات د چک لېسټ په اړونده برخه کې ثبت شي. هغه موارد چې د مهرولاکونو په اړه څېړل کیږي، که چېرې مهرولاکونه زېړ رنګ ونلري او کوم بل رنګ وي او یا شمېر یې هغه مهرولاکونو ته په پام چې کمیسیون ویشلي دي، توپیر ولري او یا هم شمېرې ونلري، باید په دې اړه ټول ترلاسه شوي معلومات د چک لېسټ په اړونده برخه کې ثبت شي.

3. **په صندوق کې د ګډوډې نورې نښې**

وروسته له هغې چې پورتني پړاو بشپړ شي، د صندوق په داخل کې د محتوا هر ډول نورې ګډوډۍ په اړه ترلاسه کېدونکي معلومات د پلټنې د چک لېسټ سره سم، وڅېړئ.

4. **په صندوق کې د فزیکي درغلۍ نښې**

د دې لپاره چې وڅېړل شي چې آیا د پایلو په فورمه کې د ثبت شوو رأیو مجموعي تعداد او د رأیو د هغه تعداد ترمنځ چې په دستو کې وجود لري، توپیر شته او که نه؟ د پایلو د فورمې د کاپي (نقل) څخه استفاده وکړئ.

د دې لپاره چې وڅېړل شي چې آیا د پایلو په فورمه کې د هر نوماند لپاره ثبت شوي پایلې د هغو رأیپاڼو د تعداد سره چې د هر نوماند لپاره دسته بندي شوي، مطابقت لري او که نه؟ اړینه نه ده چې دسته بندي شوی ټولې رأیپاڼې وکتل شي، یواځې د دستې د لومړۍ، منځنۍ او وروستۍ برخې یو څو رأیپاڼې وګورئ.

د دې لپاره چې وڅېړل شي چې ممکن رأیپاڼې د رأی ورکوونکو په واسطه قات شوي نه وي، نو د پلټنې او بیا شمېرنې ټیم دې په یوه صندوق کې د دستو نیمه اندازه په تصادفي ډول انتخاب کړي او بیا دې وڅېړي. د دې لپاره چې وڅېړل شي چې څو رأیپاڼې د قات کېدو نښې نلري، د پورته څېړل شوو دستو څخه ۳ دستې په تصادفي توګه راواخلئ او هغه رأیپاڼې حساب کړئ چې د قات کېدو نښې نلري او په چک لېسټ کې یې ثبت کړئ.

د دې لپاره چې وڅېړل شي چې ممکن په رأیپاڼو کې د یو شان نښاني کولو نښې موجودې وي، د پلټنې او بیا شمېرنې ټیم دې په یوه صندوق کې د دستو نیمایي تعداد په تصادفي توګه انتخاب کړي او و دې څېړي. د دې لپاره چې وڅېړل شي چې څو رأیپاڼې داسې دي چې یو شان (مشابه) نښاني شوي دي، د پورته څېړل شوو دستو څخه ۳ دستې په تصادفي توګه راواخلئ او هغه رأیپاڼې حساب کړئ چې مشابه نښې لري او په چک لېسټ کې یې ثبت کړئ.